موسسه بین المللی ماین پاکی هیلوترست
د هیلوترست دماین پاکی نړیوال موسسه

Sari Kotali Khair Khana (KK compound)
City District No # 17, P.O Box: 3036
Kabul, Afghanistan

T: +93 (0)766 505524 +93 (0)700 228496
halo@haloafg.org
www.halotrust.org

د پنجښبه ورځ در اکتوبر د میاشتی ۶ نیټه در ۲۰۱۶ کال
محلی اړیکه شمیره ۰۷۰۰۱۵۲۳۶۵

د ماینونو څخه یو پاک افغانستان د انګلستان د دولت د مرستې زیاتوالي

د هیلوټرستِ د ماین پاکولو بین المللی موسسه چه یوه خیریه موسسه ده او د ۱۹۸۸ کال راهیسی د افغانستان ملکي وګړو لپاره بشردوستانه خدمتونه وړاندی کوي ؛ د انګلستان د دولت د دغه نیک پیرځوینه چه ۷۵۰ میلونه انګلیسی پونډ مرسته چه د دری کالو لپاره د افغانستان د پرمختګ او عاجلو مرستو لپاره بیل سوی دي ملاتړ کوي.

څرنګه چه دا مرسته په مختلفو برخو لکه صحت ؛ ښوونه او روزنه او د خصوصی سکتور د پیاوړتیا له پاره مصرف ته ورسیږي ؛ خو د انګلستان د دولت د بین المللی انکشافی برخی مسؤول اعلان یی کړی چه دا مرسته د ماینونو څخه یو پاک افغانستان په لور تر ۲۰۲۳ کاله پوری د استفادی وړ وګرځي . دا مرسته هغو پروژو ته ځانګړي سوي دي چه په هغه کي د کورنیو سره مرسته لکه د پاکی مځکی څخه ښه ګټه پورته کول ؛ د ماینونو او ناچاودو مهماتو د خطرونو څخه لکه مړینی او ژوبله د مخنیوی په هغو کلی او باندو کي چه د ماینونو او نا چاودو مهماتو څخه زیانمند سوي دي استفاده کیږي .

جمیز کاون د هیلوټرستِ د موسسی مشر وویل :

د انګلستان د دولت د دغی مرستی اعلانول د افغانستان لپاره د دغه دولت د ستراتیژیک او بشری مرستی څرګندوی ده. دهیلوټرستِ د ماین پاکولو موسسه د دغی مرستی نه په ملاتړ هغه د انګلستان د دولت له خوا د افغانستان خلکو لپاره د پرمختګ او هوسا ژوند په لور یو نیک اقدام بولي . د انګلستان د دولت د دغی مرستی نه پرته د هیلوټرستِ د ماین پاکولو موسسه د ماینونو دپاکولو او نا چاودو مهماتو را ټولو سره چه د افغانستان د پرمختګ او ثبات په لور یو ستر خنډ دی به په یو ستر ګواښ مخامخ کړی وای .

د هیلوټرست د ماین پاکولو موسسه د افغانستان په سطح یو منل سوی خیریه او تجارتی موسسه چه هم دا اوس د ۲۴۰۰کسانو په درلودلو سره د ماین پاکی خدمتونه د مسلکی پرسونل او ماشین الاتو په واسطه ؛ د جنګ نه پاتی ناچاودو ټوکی پاکول ؛ سروی او د ماینونو دخطرنو څخه خبرتیا د افغانستان خلکو لپاره ولاړندی کوي . ددغه موسس در زرورو او وفادارو ځوانان د هڅی په نتیجه د ۲۸ کلو راهیسی د هیلوټرستِ د موسسه وتوانید چه د ممکلت په سطح 834,796 حلقی ښځ سوی ماینونه د څه د پاسه 114,657 هکتارو مځکو څخه پاک او خلکو ته وسپاري. د دغو ماینونو او نا چاودو مهماتو پاکول د زراعتی مځکی ؛ څر ځایونو او هستوګن ځایونه دا زمینه برابره سوه چه خلکو خپل کرنیز تولیدات زیات او د ټول ګټو بنستیزو پروژو په ودانولو که اقدام نمایی . د هیلوټرستِ د ماین پاکولو موسسه د خپل دغی مرستې نه په ۲۷ ولسوالیو او ۲۹ ولایتونه مربوط شاو خوا 10,804 قریی برخه من کړي دي .

میرمن پریتی پاتل د انګلستان د دولت د بین المللی پراختیا مسؤلی په دی باره کی داسی وویل :

د انګلستان اوسنی دغه نوی مرستی به دا محال د زیاتو ملکی وګړو ژوند به وژغوری او د انسانی ناورین څخه به مخنیوی وکړي خو بیا په اوږد محال کی دغه مرستی یو با ثباته ؛ هوسا او کامیاب افغانستان به نړیوالو ته ور وپیژنی . د انګلستان دولت د یو با ثباته او سولیز افغانستان په لور خپل ونډه ادا کړی ده. دغه وعدی دانګلستان د دولت له خوا افغانستان ته په داسی حال ورکول کیږی چه افغانستان په یو حساسه مرحله قرار لری- څرنګه چه افغانستان په دی ورستیو کی د حقیقی پرمختګ په لور روان دی باید بین المللی ټولنه هم په دی تګ لاره همکار پاتی شي . مونږ به اجازه ورنکړو چه افغانستان په نیمه لاره پاتی او یو څل بیا د تاو تریخوالی او شخړی مرکز وګرځي . نو ځکه د انګلستان دولت د خپل جاری تعهدات نه یو ځل بیا ملاتړ کوی او نور مرستندویو ملکونو ته هم په دی تګ لاره بلنه ورکوي .

ختم